Social Sceince
AcademicJournal
لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د انسان پر روان د نشه يي توکو اغېزې

**امان الله اسلمي[١*] انعام الله میاخیل[٢] جواد میاخیل[٣]**
[١]استاد،کلینیک څانګه، معالجوي طب پوهنځی، روښان د لوړو زده کړو موسسه (ننګرهار)
[٢] نوماند پوهنیار، ژورنالیزم څانګه، ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، لغمان پوهنتون
[٣]پوهنیار، حقوقو څانګه، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، ننګرهار پوهنتون
ایمیل: amanullahaslami28@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۴/۰۸/۱۰ ، منل سوي:۱۴۰۴/۱۲/۱۹، خپره سوي: ۱۴۰۴/۱۲/۲۹، مخونه:۱۵۹-۱۸۱

**لنډیز**

نشه‌يي توکي د معاصرې نړۍ له جدي ګواښونو څخه دي چې نه يوازې پر فردي ژوند، بلکې د ټولنې پر جوړښت هم ژورې اغېزې لري. د هغوی زیانونه يوازې فزیکي روغتیا ته محدود نه دي، بلکې د انسان رواني او ذهني توازن هم سخت اغېزمنوي. د دې څېړنې موخه د نشه‌يي توکو د رواني اغېزو او له دې امله د رامنځته کېدونکو اختلالاتو او ناروغیو ارزونه ده. څېړنه مروري بڼه لري او په تحلیلي کړنلارې ترسره شوې ده. موندنې ښيي چې نشه‌يي توکي د انسان نورمال روان ګډوډوي او جدي رواني ستونزې رامنځته کوي. دغه اغېزې د خوب، حافظې، ادراک، مزاج، شخصیت، قضاوت، پرېکړې کولو، سلوک، عقل، لېوالتیا، زده کړو او اشتها پر برخو څرګندېږي. سربېره پر دې، خفګان، پارانویا، دوه قطبي اختلال، شیزوفرینیا او نور شدید ذهني اختلالات هم ورسره تړاو لري. په پایله کې، نشه‌يي توکي د انسان پر روان پراخ او ویجاړونکي اثرات لري.

**کلیدي کلمې:** نشه يي توکي، د انسان روان، نشه يي توکي، رواني اغېزې، انسان، روان.

# A review article: Effects of drugs on human Psyche

**Amanullah Aslami[*1], Inamullah Miakhel [2] Jawad Miakhel[3]**

[*1]Lecturer, Clinic Department, Faculty of Medicine, Roshan Institute of Higher Education ,Nangarhar-Afghansitan
[2]Junior Teaching Assistant professor, Department of Journalism, Faculty of Literature and Humanities, Laghman University, Laghman-Afghanistan
[3]Teaching Assistant professor, Law Department, Law and Political Science Faculty, Nangarhar University, Nangarhar-Afghansitan
Email: amanullahaslami28@gmail.com

## Abstract

Narcotic drugs are among the major threats of the modern world, affecting not only individuals but also the structure of society. Their harmful effects extend beyond physical health, severely disrupting psychological stability and mental balance. This study aims to examine the psychological impacts of drug use and the related disorders and illnesses it may cause. The research follows a review-based and analytical approach. Findings indicate that narcotic substances significantly disturb normal mental functioning and contribute to serious psychological conditions. Drug use negatively affects sleep, memory, perception, mood, personality, judgment, decision-making, behavior, cognition, motivation, learning, and appetite. It is also associated with depression, paranoia, bipolar disorder, schizophrenia, and other severe mental disorders. In conclusion, narcotic drugs have wide-ranging and destructive effects on mental health and overall psychological well-being

**Keywords**: Drugs, Human Psyche, Psychological Effects of Drugs, Human and Psyche.

**سريزه**

نشه يي توکي د انسان په جسمي، ذهني او رواني روغتيا باندې ژورې او پراخې اغيزې کوي. دا توکي چې په لومړي سر کې د لنډمهاله خوشحالۍ او د ستونزو څخه د تېښتې په موخه کارول کېږي، په پای کې د روږدېدو، رواني ناروغيو او ټولنيزو ستونزو لامل ګرځي. په ځانګړي توګه د نشه يي توکو کارول د مغز فعاليتونو په ګډوډولو سره د رواني حالتونو لکه خپګان، اضطراب او پارونې سبب کېږي د نشه يي توکو همېشنۍ کارونه د مغز په جوړښت کې بدلونونه راولي، چې په پايله کې د فرد د فکر کولو، پرېکړې نېولو او احساساتو کنټرولولو وړتيا کموي، حافظه يې کمزورې کوي او د ادراک ځواک يې زيانمنوي. په دې توګه انسان له بېلابېلو رواني ناروغيو، لکه: اضطراب، خفګان او حتی نورو ګڼو رواني ګډوډيو سره مخ کوي. پر دې سربېره د نشه يي توکو اغېزې يوازې فردي نه؛ بلکې د ټولنيزو اړيکو، کاري وړتياوو او ټولنيز ژوند په نورو برخو کې هم ستونزې پيدا کوي. يو څوک چې په نشه يي توکو روږدی وي، د خپلې کورنۍ، ملګرو او همکارانو سره په اړيکو کې له سختو ننګونو سره مخامخ کېږي او دې چارې ته د ټولنې د هرې برخې پام اړول اړين دي.

نشه يي توکي که څه هم خرڅلاوو يې په بازارونو کې په پټه ترسره کېږي. خو بيا هم د انسان او د انسانيت نه خوښوونکو وګړو له لوري دغه زهرجن توکو ته په بازارونو کې انعکاس ورکول کېږي او خرڅوي يې. د هېواد او سيمې په کچه هر ګوټ ته په ډېر چټک ډول رسوي. همدارنګه نشه يي توکي په ټوله نړۍ کې کارېږي. اما د نشه يي توکو د ډولونو کارونه په هېوادونو کې فرق کوي؛ په دې معنی چې په غربي هېوادونو کې الکول او شراب ډېر کارول کېږي، په داسې حال کې چې په آسيايي هېوادونو کې سګرټ، چرس او نسوار ډېر کارول کېږي. خو هر ډول نشه يي توکو کارونه روغتيا ته ستونزې جوړوي او شخص په بېلابېلو افتونو اخته کوي (سادات, ۱۳۹۸) .همدارنګه په غربي هېوادونو کې الکول، چرس، کوکائين يا هيرويين؛ خو په افغانستان کې بيا اپين، هيرويين او چرس عام دي چې ددې تر څنګ اوس غربي پليت عادت ( د شرابو کارونه) هم يوه څه اندازه ليدل کېږي (غريب يار, ۱۳۹۱).

**د موضوع ارزښت**

د انسان د رواني حالت سمون د ټولنې د رغښت او پرمختګ سبب کېږي. سالمه ټولنه د سالمو رواني حالتونو درلودلو ته اړتيا لري. بې له سالم روان څخه د ټولنې د پرمختګ او رغښت فکرونه بې ځايه او يوازې تشې هيلې دي او د تل لپاره د هيلو په توګه پايښت مومي. که د انسان رواني حالت ښه وي نو فکر، خيالات، اړيکې، ژوند، راشه درشه، منډې ترړې او نورې ټولې چارې به يې ښې او ګټورې وي خو که خبره برعکس شي، پايلې به يې ټولنه له ستونزو سره مخ او له پرمختګ څخه به يې د شاتګ پر

لور رهي کړي. په ټولنه کې داسې څه شته چې د انسان رواني حالت له ستونزو سره مخ کوي. نشه يي توکي هم له هغو څيزونو څخه دي چې د انسان روان تر اغېز لاندې راولي او د ډېرو وګړو سالم روان اخلي او شخص کې رواني حالت ګډوډوي، او د شخص او د ټولنې وګړي له ستونزو سره مخ کوي نو د یوې سالمې ټولنې درلودلو په موخه د نوموړې موضوع ټاکنه خورا اړینه او ارزښت يې جوت دی. څکه که وګړي د نشه يي توکو په هغو منفي اغېزو وپوهېږي، چې د دوی پر روان يې کوي نو لرې نه ده، چې له کارونې به يې لاس واخلي. دغه لاس اخيستنه به يې کورنی، ټولنې او ان په لويه کچه هېواد او نړۍ له ناخوالو وژغوري. د دې څېړنې ارزښت هم په همدې کې دی، چې لوستونکي به پر نشه يي توکو د پوهېدنې سره سره پر روان د نشه يي توکو اغېزو باندې وپوهېږي، چې دغه پوهاوی به د دې باعث شي، چې دوی د نشه يي توکو کارونه پرېږدي او روغتياي اداري به دې ته پاملرنه وکړي، چې د عامه پوهاوي برنامې ډېرې کړي څو په دې برخه کې د وګړو عامه پوهاوی ډېر او د نشه يي توکو له زيانونو خونديتوب ومومي.

**د ستونزې بيان**

نن ورځ د نشه يي توکو کښت، روږدي کېدنه او ناقانونه ډول د نشه يي توکو کاروبار په يو نړيوال بحران او ستونزې باندې بدل شوی دی. نشه يي توکي د انسان په فزيکي، رواني روغتيا او ټولنيز ژوند ته د پام وړ زيان رسوي. په ځانګړي ډول پر روان د نشه يي توکو اغېزې د جدي ستونزې په توګه پېژندل شوې دی چې په ډېرو ټولنو کې د جسمي او رواني روغتيا تر څنګ جرمونو او اقتصادي زيانونو لامل کېږي. ډېری کسان په ځانګړي ډول ځوانان د بېوزلۍ، بېکارۍ او رواني فشارونو له امله د نشه يي توکو کارونې ته مخه کوي. د دې توکو دوامداره استعمال د مغز فعاليتونه ګډوډوي او د رواني ناروغيو لکه خپګان، اضطراب، او روحي فشارونو د زياتوالي سبب کېږي. همدارنګه د دې ستونزې ټولنيزې اغېزې ډېرې پراخې دي. روږدي کسان د کورنيو اړيکې خرابوي، تاوتريخوالی زياتوي، او د ټولنې د نورو غړو لپاره رواني فشارونه رامنځته کوي.د ستونزې د پيچلتيا او په اوسني عصر کې د پراختيا له امله پر روان د نشه يي توکو د اغېزې په اړه علمي څېړنې او تحليلونه ضروري دي. تر څو د دې څېړنو له لارې د ستونزې اصلي عوامل او اغېزې په سمه توګه درک شي، او د اغېزمنو حل لارو رامنځته کولو ته زمينه برابره شي.

**موخې**

- د انسان پر روان د نشه يي توکو په اغېزو پوهېدنه.
- د نشه يي توکو د کارونې له امله په رامنځته کېدونکو رواني ناروغيو پوهېدنه.

## موخې

- د نشه يي توکي کومې رواني اغيزې لري؟
- نشه يي توکې د کومې ناروغۍ رامنځته کوي؟

## مواد او کړنلاره

د څېړنې ډول مروري او کړنلاره مو تحليلي ده. په دې معنی چې د دې مروري مقالې مواد د بېلابېلو ملي او نړيوالو له کتابونو، نړيوالو معتبرو ژورنالونو کې له خپرو شويو علمي مقالو او له بېلابېلو سايټونو راټول شوي دي. د منځپانګې د روښانتيا لپاره مو تر ډېره هڅه کړې چې له لومړي لاس سرچېنو څخه ګټه واخلو او موضوع مو په روانه او ساده پښتو ژبه بشپړه کړې ده.

## تېرو ليکنو ته کتنه

نږدې ۹۰٪ معتادين د نشه يې توکو له ډلې د ترياکو له کارونې څخه د رواني اختلالاتو له جملې ژورخفګان او ټولنې ضد شخصيت ګډوډي رامنځته کيږي، داسې خبرونه ورکړل شوي چې د ترياکو له معتادينو څخه ۱۵ سلنه کارونکو يو ځل دځان وژنې هڅه کړې ده (احمدوند، ۱۳۸۹). همدارنګه د نشه يي توکو کارونه يوه نړيواله انساني ستونزه ګرځېدلې ده، چې د هر انسان ژوند تر خپل اغېزې لاندې راولي. د روغتيا نړيوال سازمان ۲۰۰۷ کال راپور له مخې په ټوله نړۍ کې ۲۰۰ ميليونه کسان د ۱۵ نه تر ۶۴ کالو په منځ کې يو يا له يو څخه زيات مختلف ډوله د نشه يي توکي کاروي (بروجني، ۱۳۹۶). چې ددی کارونې له امله اضطراب، خپګان، د حافظې ضايع، ادراکي نيمګړتيا، هيلوسينيشن، د شخصيت بدلون، ضعيف قضاوت، د پريکړې کولو کمه وړتيا، د تمرکز ستونزې، د مزاج بدلون او احساساتي بې ثباتي د نشه يي توکو له امله رامنځته کيږي (Zayed, 2024).

## د انسان د روان پېژندنه

روان (Psyche) يوه لرغونې يوناني کلمه ده چې د "روح" يا "نفس" مانا لري. دا کلمه په روان‌شناسي کې د انسان د ذهن، افکارو او احساساتو په تشريح کې کارول کېږي. په پراخه توګه روان (Psyche) د هغه فکري او ذهني پروسو مجموعې ته ويل کېږي، چې د انسان چلند، شخصيت او احساسات اغېزمنوي .(Jung C. G., 1971)همدارنګه روان (Psyche) د يوناني افسانې څخه سرچېنه اخلي، چېرې چې "سايک" د يوې ښځې نوم و چې له مشکلاتو وروسته د روح يا روحانيت سمبول ګرځي. په معاصره کارونه کې دا کلمه د انسان داخلي ذهنيت او رواني حالت تشريح کوي. کارل يونګ دا کلمه د انسان د لاشعوري او شعوري رواني پروسو تشريح کولو لپاره وکاروله. يونګ په دې باور و چې د انسان

(psyche) درې برخې لري: شعوري ذهن (conscious), لاشعوري ذهن (personal unconscious), او ټولنیز لاشعور (collective unconscious) (Jung, 1964).پدې توګه، روان (Psyche) هغه مفهوم دی چې د انسان د داخلي او ذهني نړۍ استازيتوب کوي، او د روانشناسي په علم کې يوه مهمه اصطلاح ګڼل کيږي.

همدارنګه د انسان روان د هغه فکري، احساسي، او چلنديزو پروسو ټولګه ده، چې د شخص ټولنيز او شخصي چلند اغيزمنوي. د فرويډ په وينا، انسان روان درې برخې لري: ايډ (Id)، ايګو (Ego) او سپرايګو (Superego)؛ د ايډ برخه د لومړنيو غوښتنو او غرايزو استازيتوب کوي، چې په لا شعوره ډول عمل کوي، په داسي حال کې چې ايګو د واقعيت پر بنسټ عمل کوي، او سپرايګو د اخلاقي ارزښتونو او ټولنيزو اصولو څارنه کوي (نصرت, ۱۳۹۸) (Freud, 1923). دا درې برخې په ګډه د انسان د رواني فعاليتونو او چلندونوته لارښونه کوي.

کارل راجرز بيا باور لري چې روان د انسان د تجربوي نړۍ پر درک ولاړ دی. هر فرد هڅه کوي چې ځان تحقق (Self-actualization) ته ورسيږي، يعنې هغه پوره وړتياوې او موخې ترلاسه کړي چې دوی يې توان لري. د دې نظر له مخې د انسان روان د داخلي احساساتو او تجربو پر بنسټ جوړيږي (Rogers, 1951). په ورته ډول، البرټ باندورا په ټولنيز زده‌کړې نظريه کې څرګندوي چې انسان روان او چلند د چاپيريالي او ټولنيزو اغيزو په پايله کې بدلون مومي. انسانان په مشاهده او تقليد سره زده‌کړه کوي، او د هغوی رواني حالت د نورو خلکو له چلند او تجربو څخه اغيزمنيږي. (Bundura, 1977) پدې توګه، انسان روان د بېلابېلو داخلي او بهرني عواملو له مخې تعريفيږي، او د وخت په تېرېدو سره دا نظريات په عصري پوهې او څېړنو سره پرمختګ مومي.

که چېرې موږ دا فکر وکړو او ځان درک ته ورسوو چې دماغ او روان په خپل منځ کې څه اړيکه لري، په دې اړه ميخايل په نوم عالم په خپله څېړنيزه مقاله (روان او د دماغ تر منځ اړيکې) کې ګوت څنډنه کوي او وايي چې روان غير مادي جوړښت څخه عبارت دی، چې د معلوماتو پروسس کولو يوه ځانګړې بڼه ده. دا د انسان د تجربو، احساساتو، فکرونو او ټولنيزو تعاملاتو ټولګه ده. بيا همدارنګه وايي، چې دماغ او روان دوه جلا سيستمونه؛ مګر يو له بل سره تړلي دي. دماغ د رواني فعاليتونو لپاره يوه بيولوژيکي انترفيس (interface) دی چې د معلوماتو د پروسس کولو او د رواني تجربو د څرګندولو لپاره کار کوي. او همدارنګه دا په خپله مقاله کې زياتوي چې د رواني حالت د پرمختګ لپاره د ژبې او ټولنيزو تعاملاتو ته اړتيا شته. د ژبې زده کړه د رواني معلوماتو يوه اضافي سيستم رامنځته کوي، چې

د رواني حالت په جوړولو کې مهم رول لري. ياد عالم د رواني اختلالاتو درملنې په هکله په سراحت سره داخبره کړه ده چې د روان درملنه بايد د رواني او ټولنيزو تعاملاتو له لارې وشي، نه يوازې د فزيکي درملنې له لارې. چې رواني درملنه د رواني متخصص او ناروغ ترمنځ د اړيکو پراساس ترسره کېږي .(Mikhail, 2017)

## نشه يي توکي(مخدره مواد)

مخدر د خدر څخه اخيستل شوی دی، چې د کمزورۍ، سستۍ او د ناغېږۍ په معنی لري او په اصطلاح کې هغه علامه قرافي(رح) وايي، هغه څه چې عقل او حواس ګډوډ کړي پرته له دې، چې نشه او خوښي له ځانه سره ولري؛ نشه يي توکي بلل کېږي (ذکي پ. ن.، ۱۳۹۶) يا نشه‌يي توکي هغه مواد دي، چې د انسان په عصبي سيستم سيده اغېزه کوي، د هغوی احساسات، چلندونه او ذهني حالت بدلوي. نشه يي توکي د لنډمهالې خوشحالۍ، ارامۍ يا انرژۍ د ډېروالي سبب کېږي، چې دغه تاثيرات د (۴-۶) ساعتونو پورې ادامه مومي (صافی، د کريمنالوژي له نظره د جرم او مجرم څېړنه، ۱۳۹۷). خو د اوږد مهاله کارونه له خوشحالۍ څخه محروموي او روغتيا ته يې نه جبرانيدونکي زيانونه وراړوي (حماس، 2007).خو د نشه يي توکو ډېره او په دوامداره توګه کارونه روږديتوب، جدي رواني او جسمي ستونزې رامنځته کوي. د نشه‌يي توکي بدن په فزيکي او رواني انحصار اخته کوي، چې په پايله کې يې شخص په تلپاتې توګه دا توکي کاروي او روږدي کېږي او منفي پايلې لري (Koob G. F., 2008). د نشه يي توکو کارونه په ټوله نړۍ کې عامه شوې او په پرمختللو او مخ په ودو هېوادونو لپاره يې په روغتيايي برخه کې ډېرې سترې ستونزې راولاړې کړې دي. په بېلا بېلو هېوادونو کې له ډول ډوله نشه يي توکو، لکه: Nicotine, Cannabis, Opiates او الکولو سره سره د نشه يي توکو نور ډولونه کارول کېږي (نصرت، ۱۳۹۸).

په اخر کې ويلې شو چې نشه‌يي توکي که قانوني(درمل) وي، يا غيرقانوني د انسان پر رواني او فزيکي حالت جدي اغېزې لري. دا توکي د لنډمهاله خوشحالۍ او ارامۍ احساس رامنځته کوي؛ خو د ډېر او دوامداره کارونې په صورت کې يې روږديتوب او جدي روغتيايي ستونزې رامنځته کوي. د نشه‌يي توکو مخنيوی او درملنه د روغتيايي چارواکو او ټولنو لپاره مهمه چاره ده، ځکه چې روږديتوب نه يوازې پر شخص؛ بلکې پر ټولنه هم اغېزې لري.

## د نشه‌يي توکو ډولونه

نشه‌يي توکي د هغوی د اغېزو پر بنسټ په څلورو لويو کټګوريو وېشل کېږي: (ستانکزی، ۱۳۹۶)

**محرکات (Stimulants)**

محرکات هغه توکي دي چې د عصبي سیستم فعالیت زیاتوي او د کارونکي شخص انرژي، تمرکز او هوښیاري لوړوي، او درواغجنه خوښي رامنځته کوي، خوب کموي او او بیداري لامل کېږي. (ستانکزی, ۱۳۹٦) د دې توکو مشهورې بېلگې کوکاین، امفیتامینونه، او نیکوتین دي. کوکاین، چې له کوکا بوټي څخه اخیستل کېږي، د لنډ وخت لپاره د انرژۍ او خوشحالۍ احساس رامنځته کوي، خو په دوامداره استعمال سره یې رواني او فزیکي ستونزې رامنځته کېږي، لکه د زړه ناروغي او د عصبي سیستم ستونزې (نصرت, ۱۳۹۸).

**مخدرات (Depressants)**

مخدرات هغه توکي دي چې د مرکزي عصبي سیستم فعالیت کموي او ارامي، خوب او د فشار کمښت رامنځته کوي. الکول او بنزودیازپینونه د دې ډلې مشهورې بېلگې دي. الکول د نړۍ په مختلفو برخو کې د یو قانوني نشه‌یي توکي په توگه کارول کېږي؛ خو په زیات استعمال سره یې د ځیگر، زړه او مغزو ناروغۍ رامنځته کېږي (نصرت, ۱۳۹۸) (Volkow N. D., 2005). همدارنگه بنزودیازپینونه د اضطراب او بې‌خوبۍ لپاره تجویز کېږي، خو د اوږدمهاله کارونې په صورت کې روږدیتوب رامنځته کوي.

**نارکوټیکس(Narcotics)**

نارکوټیکس(Narcotics) هغه نشه‌یي توکي دي، چې درد آراموي، د ټوخي عکسه کموي یا له منځه وړي. او د اسهال ضد اغېزه رامنځته کوي (ستانکزی, ۱۳۹٦). خو په زیاته او دوامداره کارونې سره یې روږدیتوب او جدي روغتیایي ستونزې رامنځته کوي. مشهور (Narcotics)عبارت دي له افین، هیروئین، مورفین، کوډین او اوپوئیدونه(Opioids) (ټراماډول،پنټازوسین، میتاډون) څخه. هیروئین چې په غیرقانوني توگه په نړۍ کې کارول کېږي، د خوشحالۍ او ارامۍ لنډمهاله احساس رامنځته کوي، خو د دوامداره استعمال په صورت کې یې روږدیتوب، فزیکي او رواني ستونزې رامنځته کېږي .(Volkow N. D., 2016)

**هالوسینوجین(Hallucinogens)**

هغه نشه یي توکي چې په شخص کې غیر حقیقي خیالونه او برسامات(خیال پلو) رامنځته کوي، د مرکزی عصبي سیستم فعالیت کله ورو او کله چټکوي. (Hallucinogens) ورته ویل کېږي. مشهور (Hallucinogens) عبارت دي له؛ چرس، مرخیړي(Magic mushroom) او Phencyclidine څخه. (ستانکزی, ۱۳۹٦)

### د انسان پر روان د نشه يي توکو اغېزې

نشه‌يي توکي د انسان پر فزيکي، رواني، کاري او ټولنيزو حالاتو منفي اغېزې لري. (نصرت، ۱۳۹۸) د نشه يي توکو کارونه په شخص کې د ډول ډول ستونزو د رامنځته کېدو باعث کېږي خو د خپل ځان د کم نه راوستلو لپاره د نشه يي توکو له امله رامنځ ته شوې ستونزې پټوي او ترې منکريږي، بلکې حقيقت دا دی، چې په روږدي کس کې د فزيکي او رواني ستونزو باعث کېږي. (ستانکزی، ۱۳۹۶). نشه‌يي توکي د انسان روان او عصبي سيستم اغېزمنوي. همدارنګه د انسان افکار، احساسات او چلندونه بدلوي. د نشه يي توکو لومړنۍ کارونه لنډمهاله خوشحالي، ارامي او د انرژۍ زياتوالی رامنځته کوي؛ خو زياته کارونه يې د انسان فزيکي او رواني ځانګړتياوې تر اغېزې لاندې راولي، چې موږ يې دلته د انسان پر روان د نشه يي توکو پر اغېز تمېږو.

### پر خوب يې اغېزې

نشه يي توکي د انسان د خوب په موده او کيفيت ځانګړې اغېزې لري. په دې معنی چې په ځينو اشخاصو کې بې خوبي منځته راوړي او برعکس د ځينو اشخاصو د خوب موده ډېروي، چې دواړه حالتونه د دې باعث کېږي، چې د انسان روان اغېزمن کړي. همدارنګه د نشه يي توکو کارونه د اعصابو کيمياوي فعاليتونو او دندو کې د ګډوډۍ له امله د خوب د نظم خرابوي، چې په مستقيم ډول د يو شخص د اعصابو بيولوژيکي ساعت، چې د ويده کېدو او ويښېدو مسووليت په غاړه لري؛ اغېزمنوي. (Zayed, 2024)

### پر حافظې يې اغېزې

د دوامداره استعمال په صورت کې، نشه‌يي توکي د انسان د حافظې، پريکړې کولو او تمرکز وړتياوو باندې اغېز کوي. دا اغېزې د مغز په وړاندې د نشه‌يي توکو د دوامداره کارونې له کبله رامنځته کېږي، چې شخص په ادراکي او ذهني لحاظ په سختيو کې اخته کېږي (Koob G. F., 2010). نشه يي توکي د شخص اعصاب کمزوری کوي، له امله يې حافظه يې خرابيږي او شخص ليک او لوست نه شي کولای او د ښو او بدو تميز نه شي کوی او وړتياوې يې له منځه وړي. (حماس، 2007). د نشه يي توکو کارونه حافظه کمزورې کوي، د پرېکړو کولو په برخه کې يې زړه نازړه توب منځ ته راوړي. او د انسان پر چلند ناوړه اغېز ښيندي، چې له امله رواني ګډوډۍ رامنځته کېږي (MS, 2019). همدارنګه د نشه يي توکو کارونه د لنډ مهاله حافظې کمزورې کېدو باعث کېږي. يعنې په دې معنی چې په نږدې وخت کې رامنځته شوې پېښې د بيا ځل لپاره په ياد نشي راوړلای او اوږدمهاله حافظه هم تر خپل اغېزې

لاندې راولي او په تیر وخت کې د ترسره شوي کړنې او خاطرات یې له یاده ووځي. له بله پلوه د نشه يي توکو اوږدمهال کارونه د حافظې په هغې برخې ناوړه اغېزې کوي، چې معلومات له لنډ مهالې حافظې څخه اوږدمهاله حافظې ته لېږي. (Zayed, 2024) د نشه يي توکو له ډلې د الکولو کارونه د روږدي شخص حافظه، قضاوت، عاطفه او د مسوولیت احساس له منځه وړي (صافی، د کریمنالوژي له نظره د جرم او مجرم څېړنه، ۱۳۹۷). د نشه يي توکو له جملې چرسو دوامداره کارونه په شخص کې د حافظې ضیاع او د ناروغ د اجتماعي او روحي تعاملاتو خرابوالي د جادو په اړوند فکرونه رامنځته کوي (پاینده، ۱۳۹٦)همدارنګه د الکولو له امله د هېرېدنې اوږد مهاله ګډوډي هم رامنځته کېږي. (تنهی، ۱۳۹۱) د دې ترڅنګ په روږدي شخص د نږدې مسایلو په اړوند هېرېدنه لري چې په علمي ژبه کې ورته (Korsakov's syndrome) ویل کېږي (پاینده، ۱۳۹٦) همدارنګه زموږ په ټولنه کې چرس د نشه يي توکو له ډلې په عام ډول کارول کېږي، چې له امله یې په شخص کې د قضاوت ویجاړي، بې ثباته فکري تمرکز، بې ثباته حافظه رامنځ ته کیږي (تنهی، ۱۳۹۱).

## پر اداراک يې اغېزې

ادراک هغه پروسې څخه عبارت دی چې دماغ له حسې غړو څخه حسي معلومات راټولوي، همدا معلومات تنظیم او تفسیروي تر څو د چاپیریال لپاره یوه معنی داره پوهه تر لاسه شي (اسلمي، ۱۴۰۳). نشه يي توکو کارونه د انسان ادراکي ځواک په دی ډول تر خپل تسلط لاندې راولي چې کله انسان نشه وکړي نو د درک ځواک يې ګواښي او له سالم درک څخه انسان بې برخې کوي(MS, 2019) .

## پر مزاج او طبیعت يې اغېزې

طبیعت د یو شخص دوامداره اندروني احساساتو ته ویل کېږي چې د شخص درک او سلوک اغېزمنوي یا په بل عبارت طبیعت ثابت رواني حالت څخه عبارت دی چې د هفتو څخه نیولې او تر میاشتو پورې دوام وکړي. طبیعت له درې(نورمال ، له نورمال څخه پورته او له نورمال څخه ښکته) حالتونه لري. چې له دی څخه شخص په یو وخت کې یو حالت کې قرار لري (احساس، ۱۴۰۱) نشه يي توکي د انسان طبیعت او مزاج د ګډوډی لامل کېږي. په همدې اساس د نشه يي توکو کارونه د انسان د مغزو د کېمیاوي بدلونونو لامل ګرځي، چې په پایله کې يې د انسان د مزاج ګډوډی رامنځته کېږي او په دې سره يې احساسات هم بدلون مومي. د احساساتو او مزاج ګډوډي د دې لامل کېږي، چې روږدی کس د خپلې کورنۍ غړي او ملګري له لاسه ورکړي. البته دغه د مزاج بدلون ښایي د درملنې تر وخت پورې دوام

وکړي او که روږدی کس د درملنې لاندې وي او په خپل سري ډول درملنه پرېږدي نو په شخص کې اضطراب، خارښت او پارانویا څرګندېږي (Zayed, 2024).

**پر شخصیت یې اغېزې**

شخصت د يو شخص د افکارو، احساساتو او چلندونو ځانګړتیاوې دي، چې هغه له نورو بېلوي. یا شخصیت هغه تلپاتې ځانګړتیاوې او چلندونه دي، چې یو شخص یې د ژوند د تنظیمولو لپاره اختیاروي. همدارنګه شخصیت د شخص وړتیاوې، ګټې، چلونه، ارزښتونه، ځان پېژندنه، احساسات او مزاج هم په خپل ځان کې (APA Dictionary, 2018).

نشه يي توکي د انسان په شخصیت کې د بدلونونو لامل کېږي. په دی بدلونونو کې د انسان افکار، احساسات او چلندونه راځي، چې خورا زیات یې تر اغېزو لاندې راولي، چې له امله یې شخصیت ناسالم کېږي. دغه د شخصیت بدلونونه د نېږدې خلکو له خوا ښه په ګوته کېږي، په داسې حال کې چې په شخصیت کې تدریجي بدلونونه د عمر په څېر نورمال دي؛ خو په شخصیت کې د نشه يي توکو څخه رامنځ ته شوي بدلونونه له وخته وړاندې ظاهرېږي او وار دمخه پېژندل کېږي. همدارنګه د نشه يي توکو کارونه د مغزو جوړښت کې بدلون راولي. د دماغ (Reward system) فعالوي او زموږ د بدن دندې اغېزمنوي، چې په پایله کې د روږدي کس په شخصیت کې د بدلون سبب کېږي ( Zayed, 2024).همدارنګه د نشه يي توکو او الکولي مشروباتو استعمال له امله د شخصیت ګډوډي، اخلاقي، اجتماعي او اصولي پولو ماتول او ترې سرغړونه، دوامداره غوصه منځ ته راوړي او په روږدي شخص د مسولیت احساس نه کوي (صافی, د کريمنالوژي له نظره د جرم او مجرم څېړنه, ۱۳۹۷). د نشه يي توکو له ډلې د الکو کارول د شخیصیت بل ډول اختلال د ټولنیز ضد شخصیت اختلال(( Antisocial Personality Disorder(APS) په نوم یادیږي رامنځته کوي. دا اختلال معمولاً نورو اشخاصو حقونو ته د پراخه بې پامۍ او د نورو وګړو لپاره د خواخوږۍ نشتوالي په واسطه مشخص کېږي. په ټولنيز ضد شخصیت اختلال معروض وګړي اکثرا نور خلک د خپلو اهدافو دلاسته راړلو لپاره په پراخه توګه کاروي. له بلې خوا د نشه يي توکو له کارونې څخه په شخص کې بل اختلال سرحدي کرښې شخصیت (Borderline Personality Disorder(BPD)) په نوم یادیږي رامنځته کېږي. چې دا د رواني روغتیا یو وضیعت دي چې د احساساتو په اداره کولو وړتیا باندې تاثیر کوي او شخص د نشه يي توکو کارونه زیاتوي، دا اختلال ۲،۷سلنه یوازې لویان اغېزمنوي. د احصایې له مخې ۷۸سلنه سرحدي کرښې شخصیت لرونکي وګړي د نشه يي توکو کارونې تاریخچه یا هم د نشه يي توکو له کارونې څخه رامنځ

ته شوی یو بل اختلال به لري، خو تر اوسه په دقیقا دا نه معلومه شوې چې نشه يي توکو تر کومې سلنې مشخصا د سرحدي کرښې شخصیت لامل کېږي (پاشایی، ۱۴۰۳).

**پر قضاوت او پرېکړې کولو يې اغېزې**

قضاوت او سمه پرېکړه د انسان د اړینو ځانګړنو څخه ګڼل کېږي. په دې معنی چې که یو څوک د سم قضاوت او ښې پرېکړې ځواک ولري؛ نو کولای شي، چې د خپل ځان، کورنی او ټولنې په ګټه تمام شي او برعکس يې بیا د ناسمو پایلو سبب کېږي. څرنګه مو چې مخکې پر حافظې، ادراک، تمرکز او احساساتو د نشه يي توکو د کارونې اغېزې روښانه کړې؛ نو ښه قضاوت او سمه پرېکړه د ښې حافظې په لرلو سره کېږي، چې نشه يي توکي د روږدي څخه دغه ځواک اخلي، چې پایله کې روږدی کس ښه قضاوت او سمه پرېکړه نشي کولای (Seventy Time Seven Wellness, 2024).

همدارنګه الکولي مشروبات د انسان پر د قضاوت پر ځواک اغېز کوي او نوموړی ځواک ترې اخلي (صافی، د کریمنالوژي له نظره د جرم او مجرم څېړنه، ۱۳۹۷). همدارنګه د الکولي مشروباتو کارونه د مغزو د هغې برخې کړنې کموي، چې د انسان د قضاوت کولو دنده په غاړه لري. په پایله کې انسان نشي کولای چې په پوره اندازه خپل قضاوت وکړي. د قضاوت خرابوالی د خبرو له خرابېدو سره پېژندل کېږي (سادات، ۱۳۹۸). د نشه يي توکو له پورتنیو بدو اغېزو سره سره په روږدي کس کې د کورنی د غړو، ملګرو او کار ځای کې د همکارانو پر وړاندې د حسد، کینې عقدې او بدګماني سبب کېږي (نادري، ۱۳۹۱). همدارنګه د نشه يي توکو له جملې څخه شراب هغه څه دي. چې په انسان کې د په یاد راوړلو او هوښیارۍ ستونزو تر څنګ په پرېکړو او تصمیم نیولو کې هم شخص ته بارزې ستونزې رامنځته کوي (حماس، 2007).

**پر سلوک يې اغېزې**

د اشخاصو لخوا د داخلي او خارجي تنبهاتو په وړاندې ترسره شوي کړنو، غبرګونونو، او عکس العملونو ته ویل کېږي چې مختلفو اغېزو له امله په مختلفو شکلونو سره ظهور کوي (اسلمي، ۱۴۰۳). نشه يي توکو کارونه په سلوک ژورې اغېزې کوي، په دې معنی چې روږدي انسان خپل ځان په غلطه بولي او خپل اعتیاد کړنه په پټ ځای کې ترسره کوي ځکه چې معتاد په توګه دوی له نورو انسانانو څخه وېره احساسوي او تل هڅه کوي چې ګوښه ژوند اختیار کړي. د نشه يي توکو له جملې شراب هغه څه دي چې له کارونې وروسته شخص کې ځانځاني خوښوي، له نورو خلکو سره اړیکه پرېږدي، پر خلکو بدګمانه کېږي، له ژونده يې زړه توریږي او په پای کې د ځان وژلو هڅه کوي او د خپل ځان قاتل

جوړېږي نه يواځې د خپل ځان قاتل ګرځي بلکې کله چې خپلې کورنۍ سره يو ځاې کېږي او خپل اولادونه وګوري، چې له خپل مور سره اوسي نو دوی د خپلې بدګمانۍ او د رواني ستونزو په اوج کې ښځې او ماشومان قتلوي خو کله چې د نشې تاثيرات له منځه لاړ شي، نو له خپلې کورنۍ څخه يې لاس منځلې وي او خپل زامن او ښځه يې وژلې وي (حماس, 2007). همدارنګه دنشه يي توکو له جملې د شرابو کارونه د ذهني کنترول درهم برهم کوي او له امله يې په عادي او وړو مسلو په ناحقه له نورو سره جګړئيز سلوك اختياروي او شخړې ترې رامنځته کيږي (سادات, ۱۳۹۸). نو که چېرې شراب څښنلو ته د (زهرو خوړل) او (درجه په درجه ځان وژل) وويل شي نو بې ځايه به نه وي (رحماني, ۱۳۹۵).

## پر عقل يې اغېزې

عقل د (عقال) عربي کلمې حځه اخيستل شوی چې د اس مهارولو او تړلو رسۍ ته ويل کېږي په اصطلاح کې عقل هغه رواني قوه ده چې د انسان کړنې تر خپل کنټرول لاندې راولي په دې معنی چې کړنې ترې، مهاروي او ساتي يي.

په اسلام کې د عقل او تفکر په کارونې ډېر تاکيد او امر شوی. عقل په قران کريم کې ۴۹ ځله ياد شوی، چې د پوهې او هوښ معنی تری اخيستل کېږي. (البدري, ۲۰۱۸) پر عقل باندې نشه يي توکي ژور اغېزې اچوي. نشه يي توکو ته د قرآنکريم او سنتو په ژبه کې خمر ويل کېږي؛ ځکه چې خمر په عربي کې هر هغه څه ته ويل کېږي، چې د انسان عقل زايلوي، پوښوي او پټوي او له کاره يې وباسي، په همدې دليل باندې اسلامي شريعت ټول نشه يي توکي حرام کړي دي. قران کريم د االمائده سورت په ۹۰ نمبر ايت کې فرمايي چې لاندې ډول يې ترجمه کېږ مېږ نقلوو:

ای مؤمنانو! دا شراب، جواري، دا درشلې(بتان) او د فال نيولو غشي، دا ټول ناولي او شيطاني کارونه دي، له هغو څخه ډډه وکړئ. هيله ده چې تاسې ته به بری در په برخه شي (ديوبندي & عثماني, ۱۴۱۴).

همدارنګه ابن عمر رضی الله عنه د رسول الله(صلی الله عليه وصلم) څخه حديث نقل کوي او فرمايي: (هر نشه يي شې خمر يا شراب دي او هر نشه راوستونکې شی حرام دی) صحيح مسلم (اياس, ۱۳۹۴).

د نشه يي توکو له جملې څخه شراب عقل له منځه وړي، کارونکې يې د ليوني په شان کېږي او له امله يې شخص روغتيا او سلامتيا له لاسه ورکوي (صابونی, ۱۳۹۱) همدارنګه نشه او شراب په موقتي شکل انسان له عقل او شعور څخه خلاصوي، له سده او هوښ څخه يې وباسي، داسي کړنې او په ژبه ويل

کوي چې د سد او هوښ په حال کې تصور هم نشي کیدې (رحماني, ۱۳۹۵). همدارنګه د نشه يي توکو له جملې څخه د شرابو کارونې په هکله د سورت بقرى ۲۱۹ نمبر ایت تفیسر کې راغلي هغه عقل چې انسان پرې له ټولو بدو کارونو څخه ځان ساتي زائله کېږي. په پايله کې شخص لخوا د اوامرو د پرېښودو او د نواهيو د کولو باعث کيږي (ديوبندي & عثماني, ۱۴۱۴). همدارنګه نشه يي توکي هم د شرابو له ډلې څخه شمارل کېږي، چې دوى دواړه د عقل په کمزوري کولو، سستولو او بې حسه کولو کې سره مشترک دي او د دې تر څنګ د فاسدو خيالاتو او د بې ځايه فکرونو رامنځ ته کولو لامل کېږي چې د جرم او جنايت سبب ګرځي (ذکي پ. ن., ۱۳۹٦).

**پر علاقې يې اغېزې**

د نشه يي توکو کارونه د انسان د روان متاثره کېدو له امله شخص په ورځینو کارونو او چارو کې د لټې ښکار کېږي او نه شي کولای چې خپل ورځني کارونه په سم ډول ترسره او پايله تر لاسته راوړي (سادات, ۱۳۹۸) همدارنګه د نشه يي توکو له جملې د چرسو دومداره کارونه بې علاقه ګي او کمزوري رامنځته کوي، چې په پايله کې ورځنۍ کارونه او درسونه په سم ډول پر مخ نه شي وړلې او د سختو ذهني ګډوډيو او خيالاتو سبب ګرځي (الن & UNODC, ۲۰۱۴). له بله پله د نشه يي توکو کارونې له امله شخص په هغو فعاليتونو کې خپله علاقه له لاسه ورکوي چې د خوند او لذت ترى ترلاسه کېږي. د کارونو څخه د علاقې له لاسه ورکول د اعتیاد او خپګان يوه کليدي علامه ده. دا ډېره شديده ويجاړونکې علامه ده ځکه چې شخص دا احساس کوي چې په نړۍ کې هيڅ د خوښي او لذت شی شتون نلري. هرڅوک خواهشاتو او ليوالتياوې لري خو دې خواهشاتو او لېوالتياوو موندلو لپاره په دى حالت کې (علاقه له منځه لاړه ده) بېرته ستنېدل د يو چا لپاره اسانه ندي (Crossroads, 2023).

**پر زده کړو يې اغيزې**

د زده کړې وړتيا د انسان د ادراک يو له خورا مهم اړخونو څخه دی. په هرصورت کله چې يو شخص د نشه يي موادو د کارونې سرغړونه باندې کې ښکيل وي، د زده کړې وړتيا يې په جدي توګه سازش او روغه کوي او نوي شيان نه شي زده کولای ځکه چې د نشه يي توکو کارونه د شخص د تمرکز د خرابوالي باعث کېږي کوم چې تمرکز د زده کړې يو بنسيز اړخ دی. په دې معنی کله چې تمرکز کم شي نو د نوي معلوماتو د جذب او ساتلو وړتيا په جدي توګه تر خپل اغېزې لاندې راولي. دا يو مهمه مسئله چې په ځانګړې توګه په مسلکي يا اکاډميک ترتيباتو کې چېرې چې د زده کړې ظرفيت مستقيم برياليتوب سره تړلی دی. همدارنګه د نشه يي توکو له ډلې محرک درمل (کوکاين او ميتامفيتامين) په

پيل کې هوښيارتيا او انرژي زياتوي مګر اوږدمهاله کارونه يې د ادراکي پروسې د سستولو لامل کېږي. په پايله کې د وخت په تيريدو سره اشخاصو ته د نوي معلوماتو جذبولو، لارښوونو تعقيب او پيچلي دندو بشپړول ستونزمن کوي(Usman, 2024 ) .

**پر اشتها يي اغېزې**

د نشه يي توکو له جملې الکولو ته ځيني کسان په دې باور دي چې اشتها زياتوي او د معدې سره د غذايي موادو په هضم کې مرسته کوي خو د اشتها زياتوالي د الکولو د کيمياوي اغېزو له امله نه دی بلکې د شخص د اروايي تلقين او تسکين له امله اشتها زيات شوی دی. همدارنګه اوس ثابته شوې، چې د بېرو يا د شرابو دايمي کارونه د انسان اشتها خرابوي او په بې اشتهايي اخته کوي، چې لامل يې د معدې التهابي کېدل دی، چې د بيرو له کارونې څخه رامنځته کېږي (ذکي پ. ن.، ۱۴۰۲).

**خفګان رامنځته کولو اغېزې**

هغه رواني احتلال او ګډوډي چې شخص پکې له ناهيلۍ او زړه تنګۍ سره مخ کېږي د خفګان په نوم ياديږي (ذکي پ. ن.، ۱۳۹۷). نشه‌يي توکي کولی شي د انسان پر رواني حالت اوږدمهاله منفي اغېزې وکړي او د بېلابېلو رواني ناروغيو سبب شي، لکه ژور خفګان او اضطراب ( Le Moal & Koob, 2006). نشه يي توکو له ډلې شرابو کارونه د اضطراب او  ژورخفګان ناروغي په لوړه کچه رامنځته کوي او ورسره د طبيعت خرابوالي، روحی شورماشور او ځينو پېښو کې حتی د ځان وژنې تر کچې پورې خبره رسيږي (سادات، ۱۳۹۸). په نشه يي توکو روږديتوب خصوصا د نيشاور شيانو، دارو درملو، الکولو او د نيکوټينو کارونه پر عصبي سيستم مستقمه توګه ناوړه اغېزې کوي او ژور خفګان رامنځته کوي (ذکي پ. ن.، ۱۳۹۷). په نشه يي توکو روږديتوب کولای شي، چې انزوا، بې ارزښتي او د ناهيلۍ احساساتو له امله په نشه روږدو کسانو کې د ژور خفګان يا د ځان وژنې فکرونه رامنځته کړي، چې دا هر څه د ژور خفګان سره تړلي دي. په نشه يي توکو روږديتوب او د خفګان رامنځته کېدل موازي اړيکه لري. په دې معنی چې د تفريح لپاره د نشه يي توکو کارونه يوازېتوب رامنځته کوي، چې د ژور خفګان لپاره لاره جوړوي. ځيني کسان له رواني ناروغيو سره مخ وي، چې له دې څخه د خلاصون په موخه نشه يي توکي کاروي، چې له امله يې په روږديتوب رامنځته کيږي (Zayed, 2024).

**پارانويا رامنځته کولو اغېزې**

د نشه يي توکو د کارونې له امله په روږدي شخص کې پارانويا رامنځته کيږي. پارانويا هغه بې بنسټه او دوامداره احساس دی، چې روږدي کس ورسره مخ وي؛ يعنې داسې فکر کوي، چې زه په نورو کې ځانګړی يم او خلک د دې هڅه کوي څو ما ترلاسه کړي يا ستونزې راته جوړې کړي. ( Zayed,

2024). همدارنګه رواني درمل (Psychedelic) له جملې ایکستاسی (Ecstasy ) درمل چې د امفیتامین کورنۍ نشه يي توکو پورې اړه لري د کارونې وروسته په شخص کې د بې بنسټه دوامداره احساس (Hallucinations) لامل کېږي. دا حالت په شخص کې د سیروټونین اندازې ډېرېدو له امله رامنځته کېږي، کوم چې د ایکستاسي درملو له کارونې څخه منشا اخلي. او په شخص کې د خوښۍ احساس رامنځته کوي. خپله سیروټونین یو طبیعي ماده ده چې په مغزو کې شتون لري. چې د شخص مزاج او خوښي تنظیموي. په همدې اساس د خوښۍ هورمون په نوم هم یادیږي.همدارنګه سایکوډیالیک درمل د سیروټونین ازادیدل زیاتوي. مګر د وخت په تیریدو سره کیدای شي په شخص کې د سیروټونین طبیعي زیرمې ممکن هغه اندازې ته راټیټې شي چېرې چې د نشه يي توکو له کارونې څخه د مخه داسې ټیټې اندازې ته نه وي رسیدلې. نو که چېرې د سیروټونین لوړه اندازه د خوښیو راوستونکې دی. برعکس د سیروټونین ټیټه اندازه د خفګان سره مساوي کېږي (Moniri, 2019).

### دوه قطبي اختلال رامنځه کولو اغېزې

دوه قطبي اختلال کې د شخص مزاج او طبیعت د پورته او ښکته ترمنځ د نوسان په حالت کې وي.په دې معنی چې کله ناروغ Depressed وي او کله بیا ناروغ Manic وي (احساس, ۱۴۰۱) چې نشه يي توکي ورباندې اغېزې ښندوي په دې معنی چې د نشه يي توکو کارونې څخه عام او ستونزمن اختلالاتو له جملې دوه قطبي اختلال رامنځته کېږي. دوه قطبي اختلال د Manic-depressive disorder په نوم هم پېژندل کېږي. دا خورا شدید رواني اختلال دی، چې شخص یکې په لویه کچه غیر معمولي چلند څرګندوي. په حقیقت کې دا اختلال د خفګان ناروغۍ یو ښاخ دی. چې د نشه يي توکو له ډلې کینابیس، رواني محرکات، الکول او د مختلف النوعه نشه يي توکو ترکیب چې د ذهن او د روان د بدلون وړتیا لري د دوه قطبي اختلالاتو لامل کېږي (پاشایی, ۱۴۰۳)

### مست لیونتوب رامنځته کولو اغېزې

مانیا د ژورخفګان له برعکس حالت څخه عبارت دی چې د شخص طبیعت یکې لوړ وي، فعالیت کې زیات وي او ځان د مهموالي په اړوند ورسره ډېر نظریات پیدا کېږي (احساس, ۱۴۰۱) یا مانیا هغه رواني اختلال دی چې چې شخص یکې ډېره خوشحاله وي د نشه يي توکو له جملې د الکولو د استعمال په واسطه رامنځته کېږي (غریب یار, ۱۳۹۱)

### اضطراب رامنځته کولو اغېزې

اضطراب نورماله احساس او غبرګون څخه عبارت ده، چې په تهدیدوونکو حالاتو کې رامنځته کېږي او تهدید ته زموږ پام اړوي. همدارنګه اضطراب په بدن کې فزیولوژیک تغیرات رامنځته کوي چې موږ

عکس االعمل ته تیار شو په دې معنی چې موږ به یا له تهدید سره مقابله(Fight) کوو او یا به الوتل (Flight) کوو تر څو موږ ددې عکس العملونو له لارې خپل ژوند خوندي کړو. چې دا د نورمال اضطراب په ګټوری کې راځي ددې به مقابل کې بل غیر نورمال اضطراب دی، چې ډېر ډولونه لري. عموما غیر نورمال اضطراب د تهدید په نسبت زیاته او دوامداره وېرې چې د شدید رواني فیشار ( Sever distress) سره مل وي ځانګړې کېږي (غیور, ۱۴۰۱) چې د نشه یي توکو له کارونې څخه په شخص کې سخت او نه کنټرولیدونکې اندیښنه، ویره او اضطراب پیدا کېږي . هغه خلک چې مختلف ډوله نشه يي توکي(الکول، رواني محرکات، هیرویین، آرام کولو درمل لکه بینزوډیزایپین) کاروي، په شخص کې سخت اضطراب رامنځته کوي. (پاشایی, ۱۴۰۳)

### د اضطراب ناڅاپي حملې رامنځته کولو اغېزې

د نشه یي توکو له کارونې وروسته په شخص کې د اضطراب ناڅاپي حمله رامنځته کېږي. چې په دی حمله کې د شخص زړه ضربان یې لوړیږي او خوله کیدنه، د زړه ټکانونو زیاتوالې، لنډ او چټک تنفس، او د کنټرول له لاسه ورکولو ویره رامنځته کوي. شخص احساس کوي چې په یو عجیب او غیر واقعیت شي باندې محاصره شوی. او خپل هویت او د واقعیت په اړه یې احساس یې له لاسه ورکړی وي. (Moniri, 2019)

### رواني انحصار رامنځته کولو اغېزې

د نشه‌يي توکو دوامداره کارونه د رواني انحصار سبب کېږي. شخص په رواني لحاظ په دې باور کېږي چې پرته له دې توکو هغه ارامي، خوشحالي یا نورې اړتیاوې نشي پوره کولی. دی انحصار له امله شخص نشي کولای په نورمال ډول فعالیت وکړي یا خپل احساسات کنټرول کړي د نشه‌يي توکو کاروونکي ډېر ځله له دې ستونزو سره مخامخ کېږي، ځکه چې د دوی مغز په خپل عادي حالت کې سم کار نه کوي (Volkow N. D., 2016).

### لیونتوب رامنځته کولو اغېزې

لیونتوب اختلال مستقیماً د نشه یي توکو له کارونې څخه رامنځته کېږي. دا احتلال په هغه وخت کې پیښیږي چې یا نشه یي توکي د لاسرسی وړ نه وي او یا د لاسرسی وړ وي اما ونه کارول شي. په ځینو حالاتو کې دا احتلال خورا جدي او خطرناکه وي چې طبي درملنې ته اړتیا لري. د دې اختلال تر ټولو عام علایم شدید (Hallucination) او غیر معمولي فکرونو کول دي. دا اختلال د رواني محرکاتو (میتامفیتامین، کوکاین) ، هالوسینوجین ، نارکوټیکس (اوپوئیدونه چې په نسخه کې ور کوو) له امله په

لوړه کچه رامنځته کېږي (پاشایی, ۱۴۰۳). همدارنګه سایکډیلیک توکي (لیونتوب رامنځته کوونکي نشه یي توکي) په کارونکي کې د (Hallucinations) او (Delusions) لامل کېږي. شخص داسې شیان ګوري او فکر کوي چې په حقیقت کې شتون نلري، دا حالت نشه يي توکو کارونکي او د هغه شاوخوا خلکو لپاره ډېرې خطرونه لري(Moniri, 2019) . د نشه يي توکو دوامداره کارونه د لېونتوب او (Hallucinations) یا له حقیقته لرې حسونو باعث کېږي. لېونتوب هغه حالت دی، چې شخص له حقیقت سره ارتباط له لاسه ورکوي. همدارنګه روږدي کس ته د لېونتوب سره سره (Hallucinations) هم پیدا کېږي، (Hallucinations) هغه حالت دی، چې شخص داسې شیانویني، اوري، بویوي او لمس یا احساسوي، چې په حقیقت کې شتون نه لري. همدارنګه لېونتوب پر ناروغۍ اخته شخص له ټولنیزو راغونډېدنو څخه وېره لري ځکه چې په عامه ځایونو کې ورته (Hallucinations) پیدا کېږي. د نشه يي توکو اوږد مهاله کارونه د مغزو نیروټرانسمیټرونو کې د بدلون سبب کېږي له امله یې په روږدي شخص کې لېونتوب او (Hallucinations) پیدا کېږي. په عام ډول د نشه يي توکو ډېره کارونه د لېونتوب سبب کېږي؛ نو له امله یې منځته راغلی لېونتوب او (Hallucinations) له نشه يي توکو له پرېښودو وروسته هم تر میاشتو او کلونو پورې دوام کوي، چې شخص ترې رنځ وړي (Zayed, 2024). چې په(Hallucinations) کې معمولا ډېر واقع کیدونکې د اوریدنې(Hallucinations) دی چې نشه يي توکو له جملې الکولو کارونکی شخص ورسره لاس او ګریوان وي (پاینده, ۱۳۹۶) همدارنګه د نشه يي توکو له ډلې د الکولي مشروباتو کارونه انسان د لېونتوب لامل کېږي (صافی, د کریمنالوژي له نظره د جرم او مجرم څېړنه, ۱۳۹۷).

**ذهني ورسته والي رامنځته کولو اغېزې**

ذهني وروسته والی د ماغي رشد له عدم کفایې څخه عبارت دی چې د ناروغ د ذکاوت او هوښیارتیا قدرت پکې کم وي، په دې معنی کوم فعالیت او قضاوت چې ددې همزولې یې کولای شي دی نشي کولای، (پاینده, ۱۳۹٦)همدارنګه ذهني وروسته والی اصطلاح د هغه چا لپاره کارول کېږي، چې د پېژندل شوي دندو او مهارتونو په اجرا کې ستونزې ولري، لکه د افهام او تفهیم، د خپل ځان او حفظ الصحې خیال ساتل او ورسره ټولنیز مهارتونه( چلند، د خبرو اترو قوانینو پوهیدل، د خلکو سره په ډله کې پاتې کیدل او لوبې کول) له انکشاف څخه وروسته پاتې شي.

د الکولي مور څخه زیږیدلی ماشوم د نورمال ماشوم په پرتله سست ډول زده کړه او انکشاف کوي او د نورو ماشومانو په پرتله خبرې کول، قدم وهل او خپل لومړنې اړتیاوو(جامې او خواړه) پوره کولو کې

وروسته پاتې کېږي. دا هغه څه دي چې د حمل په موده چې د نشه توکو له جملې څخه شرابو کارونې له امله رامنځته کيږي (غريب يار، ۱۳۹۱) همدارنگه الکول کارونکي مور څخه زيږيدلې ماشوم کې د Fetal alcohol syndrome رامنځته کېږي چې د جسمي نيمگړتياو تر څنگ رواني ذهنې وروسته پاتې والې لري. چې د دې سندروم اساسي رامنځ کوونکی سبب د نشه يي توکو له جملې څخه الکول دي چې د حامله مور له لوري کارول کېږي (Daugherty, 2019).

### اسکيزوفرينيا رامنځته کولو اغېزې

شيزوفرنيا د رواني ناروغيو له جملې څخه د نامعلوم سبب درلودونکي ناروغي ده چې شخص پکې د افکار پاشنه او تجزيه لري او په فکر کولو، خبرې کولو، ادراک او نورو برخو کې د گډوډۍ له امله د شخص سلوک بدلون کوي.(Hallucination) او (Delusion) جدا جدا او يا دواړه يو ځای په ناروغ کې رامنحته کېږي (ناصرې، ۱۴۰۱).

د نشه يي توکو کارونه په ټول بدن او خصوصا دماغ تر سخت اغېزې لاندې راولي او د پراخو ذهنې بدلونو سبب گرځي په همدې اساس د نشه يي توکو د کارونې له امله شيزوفرينيا راوني ناروغي رامنځته کېږي، په کوم کې چې شخص شديد او غير معمولي مغشوشيت او (Hallucination) پيدا کوي. دغه رواني اختلال په هغه وخت کې قوي او شديدو اعراضو باعث کېږي چې په تير کې خفگان او نورو رواني ناروغيو تاريخچه ولري. او بيا نشه يي توکي وکاروي. مطالعات ښيي چې د نشه يي توکو له ډلې چرس، کوکاين او امفيتامين هغه څه دي چې شيزوفرينيا او ديته ورته نورو رواني ناروغيو رامنځته کېدو گواښ ډېروي (پاشايي، ۱۴۰۳) همدارنگه د نشه يي توکو له جملې(Marijuana)(تنباکو، خاشخاش) پخ شخص کې د شيزوفرنيا رواني ناروغي رامنځته کوي، په دې اختلال کې شخص په خپل سر کې غږونه آوري. همدارنگه د نورو اشخاصو له لوري ځان کنترول شوي بولي. په رواني روغتيا باندې د نشه يي توکو د اغېزو په اړه د ترسره شوي څېړنې پايله ښيي، چې د چرس کارولو او شيزوفرينيا ترمينځ مستقيم اړيکه شتون لري. که چېرې يو څوک د شيزوفيرنيا ناروغې اخته کيدلو خطر ولري نو د نشه يي توکو کارونه د شيزوفرنيا ناروغې رامنځته کيدل راپاروي (Moniri, 2019).

### اسکيزوافيکټيو رامنځته کولو اغېزې

د نشه يي توکو له کارونې څخه په شخص کې (Schizoaffective Disorder) رامنځته کېږي.دا رواني اختلال د شيزوفرنيا د نښو نښانو لکه (Hallucinations) يا (Delusions) او د مزاج اختلال نښو لکه ژورخفگان يا مانيا له يو ځای راگډېدنې(ترکيب) څخه منځته راځي. دغه اختلال د مغزو په جوړښت کې

د یو لړ غیر معمولي بدلونونو له امله رامینځته کېږي. په دې توګه د نشه یي توکو او رواني درملو کارول په روږدي خلکو کې د(Schizoaffective) اختلال پرمختګ لامل کېږي (پاشایی, ۱۴۰۳).

د دې څېړنې پایلې څرګندوي چې د نشه یي توکو کارونه د رواني روغتیا پر مختلفو اړخونو ژورې منفي اغېزې لري، په ځانګړې توګه د ادراک، مزاج، طبیعت، حافظه، شخصیت، قضاوت، پرېکړې کولو، زده کړو، سلوک د ګډوډۍ سبب ګیږي او ترڅنګ یې د خفګان، اضطراب، د اضطراب ناڅاپي حملې موندنې د احمد زیاد له لورې په ۲۰۲۴ کال ترسره شوې څېړنه کې ( اضطراب، خپګان، د حافظې ضایع، ادراکي نیمګړتیا، هیلوسینیشن، د شخصیت بدلون، ضعیف قضاوت، د پریکړې کولو کمه وړتیا، د تمرکز ستونزې، د مزاج بدلون او احساساتي بې ثباتي موندنو سره مطابقت لري. همدارنګه ځینې برخې داسې دي چې زموږ پایلې د مخکېنیو څېړنو سره بیلوي. په دی معنې چې د نشه یي توکو اغیزې پر عقل، اشتها، خوب، علاقه باندې د اغیزو تر څنګ د پارانویا، دوه قطبي اختلال، مست لیونتوب، اسکیزوفرینیا، اسکیزوافیکټیو، رواني انحصار، لیونتوب او ذهني ورسته والي اختلالات او ناروغی هغه څخه دي چې د نشه یي توکو د کارونې له امله رامنځته کیږي کوم چې په تیرو څېړنو کې ورته په جوته نغوته نه وه شوې.

په هر حال زموږ څېړنه هغه ساحه کې ترسره شوی چې مخکې له دی په دی موضوع کې څېړنه نه ده ترسره شوی.

**پایله**

نشه یي توکي پر روان پراخې او ژورې اغیزې پریباسي چې عقل، ادراک، مزاج، طبیعت، اشتها، حافظه، شخصیت، قضاوت، پرېکړې کولو، زده کړو، خوب، سلوک، علاقه د ګډوډۍ سبب ګیږي او ترڅنګ یې د خفګان، پارانویا، دوه قطبي اختلال، مست لیونتوب، اضطراب، د اضطراب ناڅاپي حملې، شیزوفرینیا، اسکیزوافیکټیو، رواني انحصار، لیونتوب او ذهني ورسته والي اختلالات او ناروغی رامنځته کوي.

**وړاندیزونه**

1. ډاکټران دې د ټولنې د عامه پوهاوي د کچې لوړولو په موخه برنامې جوړې او د ټولنې وګړو ته وړاندې کړي.
2. ډاکټران دې د مراجعینو په تم ځایونو کې د نشه یي توکو د ضررونو په اړوند انځوریز پیغامونه نصب کړي.

3. د رسنۍ دې د نشه يي توکو د اغېزو په اړوند په خپل برنامو کې رواني روغتيا ډاکټران مېلمانه کړي تر څو د نشه يي توکو د زيانونو په اړوند عامه پوهاوي ترسره شي.
4. روغتيايي ادارې دې د نشه يي توکو د رواني زيانونو په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونه ډېر کړي.
5. حکومتي ادارې د نشه يي توکو ښکاره کاروونکي دې روغتيايي مرکزونو ته وروپېژني او پټ کاروني دې رابرسېره کړي څو يې ټولنه له ضرر په امان شي.
6. روغتيايي ملي او نړيوالې ادارې دې د روږدو کسانو د درملنې مرکزونه ډېر او پکې دې مسلکي اشخاص په دندو وګوماري.
7. د انسان پر فزيکي روغتيا د نشه يي توکو اغېز اړوند دې څېړنې ترسره شي.

راتلونکې کې د نشه يي توکو پر مختلفو ډولونو او د هغوی پر اوږدمهاله اغېزو څېړنې وشي، ترڅو د دې ضررونو په هکله ژوره پوهه ترلاسه تر څو د ټولنې وګړي مو له کارونې خوندي پاتې شي.

**اخځليکونه**


1. احساس, توريالی. (۱۴۰۱). عقلي ناروغی. جلال اباد: زيار خپرندويه ټولنه.
2. احمدوند, افشن. (۱۳۸۹). بررسي وضيعت سلامت روان در معتادان تزريقي زندان کاشان درسال ۱۳۷۶. *مجله پژوهشي دانشګاه علوم پزشکي شهيد بهشتي*, ۴.
3. اسلمي, امان الله. (۱۴۰۳). *سلوک پوهنه*. جلال اباد: عظيم فوتوکاپي.
4. البدري, الهام. (۲۰۱۸/۴/۱۸). *عقـــــل څـــــه تـــــه وايي!!* حصول از کابل ټکی کام: https://kabull.com/?p=53288
5. الن , جان., & UNODC, د افغانستان لپاره پروګرام. د نشه يي موادو لپاره د تقاضا کمولو پروژه. (۲۰۱۴). *د درملو او نشه يي موادو په باب اساسي معلومات* (څلورم ايډيشن). (ب. باجوړی, ايډيټر, & ا. تکل , ژباړونکې) کابل: افغان نشراتي اداره(انا).
6. اياس, محمد کريم. اديب. (۱۳۹۴). *د حافظې د تقويت اسباب او د کمزورتيا لاملونه*. جلال آباد: کانون فرهنګي اديب.
7. بروجني, مجيد. بحريني. (۱۳۹۶). اثربخشي چهار روش پيشگيری از سوءمصرف مواد بر نگرش نسبت به مواد مخدر و سلامت روان. *پژوهش های علوم شناختی و رفتاری(علمی-پژوهشی)*, ۱۴.

8. پاشايی, ف. (۱۴۰۳/۵/۱). *اختلالات ناشی از مصرف مواد مخدر چيست؟ بررسی ۸ بیماری خطرناک*. حصول از دکترتو : https://doctoreto.com/blog/disorders-drug-use

9. پاينده, بلال. (۱۳۹۶). *عقلي ناروغی*. جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه.

10. تنې, جهان شاه. (۱۳۹۱). *رواني رنځپوهنه*. کابل: د خوست طب پوهنځی.

11. حقپال, محمد. شفيق. (۱۳۸۵). *پر اروايي ستونزو برى*. پيښور: دانش خپرندويه ټولنه.

12. حماس, عبدالهادي. (2007). *په اسلام طبي څېړنې*. بوړه بازار: نبو کابل کتاب پلورنځی.

13. ديوبندي, محمود حسن., & عثماني, شبير احمد. (۱۴۱۴). *قران کريم پښتو ترجمه او تفسير په پښتو ژبه کې (تفسير کابلی)* (۱ ټوک). مدينه منوره: مجمع خادم الحرمين الشريفين.

14. ذکي, نصيب الله. (۱۳۹۶). *دنوو ځوانانو اروا پوهنه*. ننګرهار: زيار خپرندويه ټولنه.

15. ذکي, نصيب الله. (۱۳۹۷). *ژور خفګان لاملونه او درملنه*. جلال اباد: زيار خپرندويه ټولنه-ننګرهار.

16. ذکي, نصيب الله. (۱۴۰۲). *رواني روغتيا*. جلال اباد: زيار خپرندويه ټولنه.

17. رحماني, خالد سيف الله. (۱۳۹۵). *حلال او حرام*. ( حميدالله. نګرهاري, ايډيټر, & نجيب الله. نګرهاری, ژباړونکې) پشاور: انوارالقران کتب خانه.

18. سادات, سيد مليار. (۱۳۹۸). *د نشه يي توکو زيانونه د اسلام او طب له نظره*. جلال اباد: ختيځ خپرندويه ټولنه.

19. ستانکزی,محمد سمين. (۱۳۹۶). *نشه يي توکي او اړونده ناروغی*. کابل: ننګرهار طب پوهنځی.

20. صابونی, محمدعلي. (۱۳۹۱). *روائع البيان ((تفسير آيات الاحکام))* (۱ ټوک). پيښور: مولوي محمد ظفر حقاني.

21. صافی, هجرت الله. (۱۳۹۷). *د کريمنالوژي له نظره د جرم او مجرم څېړنه* (پنځم چاپ ايډيشن). جلال آباد: ګودر کتاب خپرنځی-ننګرهار.

22. عظيمي, شرف. الدين. (۱۴۰۰). *جنايي اروا پوهنه*. (صفي. الله. ناصري, ژباړونکې) کابل: اکسوس کتابپلورنځی.

23. غريب يار, سيف الله. (۱۳۹۱). *رواني ناروغې نښې درملنې او نورې لارې چارې*. جلال اباد: ګودر خپرندويه ټولنه.

24. غيور, اجمل. (۱۴۰۱). *عقلي ناروغی*. جلال اباد: زيار خپرندويه ټولنه.

25. نادري, عبدالعزيز. (۱۳۹۱). *امراض رواني(بخش اول)* (اول ټوک). کابل: پوهنتون طبي کابل.

26. ناصرٍي, فضل الرحيم. (۱۴۰۱). *عقلي ناروغی*. جلال اباد: زيار خپرندويه ټولنه.

27. نصرت, سيد. امين الله. (۱۳۹۸). *علوم رفتاری*. مزار شريف، چهار راهي الکوزی: انتشارات نبي زاده.

Usman, M. U .(2024) .*Effects of Drug Abuse on Memory, Learning, and Cognition* . حصول از Seventy times seven wellness mission: https://www.70x7wm.com/substance-abuse/effects-of-drug-abuse-on-memory-learning-and-cognition

APA Dictionary, o. P .(2018/4/19) .personality حصول از . https://dictionary.apa.org/personality?

Bundura, A .(1977) .Social Learning Theory حصول از .https://tecfaetu.unige.ch/

Crossroads, R. A *5* .(2023/10/8) .*Devastating Psychological Effects of Drug Addiction and Substance Abuse* حصول از .Recovery At The Crossroads: https://www.racnj.com/5-devastating-psychological-effects-of-drug-addiction

Daugherty, S. R .(2019) .*USMLE Step1 Lecture Notes, Bahavioral Science*) .K. McGreevy (ايډيټر ,Chicago, IL: Michelle Covello.

Freud, S .(1923) .*The Ego and the Id* .Vienna: International Psychoanalytic Library . حصول از https://www.sas.upenn.edu/

Jung .(1964) .*Man and His Symbols* .Dell Publishing حصول از . https://antilogicalism.com/wp-content

Jung, C. G .(1971) .*Psychological Types. Zurich: Rascher Verlag* حصول از . everybodywiki: https://en.everybodywiki.com/Personality_Type

Kluwer, W .(2019) .*The ASAM Principles of Addiction Medicine*6) th ed .(ايډيشن American Society of Addiction Medicine.

Koob, G. F .(2008) .Addiction and the Brain Antireward System حصول از . https://www.uv.mx/cendhiu/files

Koob, G. F .(2010) .Neurocircuitry of Addiction .*Neuropsychopharmacology* حصول از . https://www.nature.com/articles

Le Moal, M .((2006) .& .*Addiction and the Brain Antireward System. Annual Review of Psychology* .

Mikhail, R .(2017) .What is the psyche? What are we curing ?*Anthropology Open Access* حصول از .https://www.gavinpublishers.com

Moniri حصول از .*تاثیر مواد مخدر بر سلامت روان* .(2019/6/8) .simiaroom: https://simiaroom.com/blog/تاثیر-مواد-مخدر-سلامت-روان/

MS, D .(2019) .Brain and Cognition for Addiction Medicine: From Prevention to Recovery Neural Substrates for Treatment of Psychostimulant-Induced Cognitive Deficits .*Front Psychiatry* حصول از .https://pubmed.ncbi.nlm.nih.gov/31396113/

NIDA., N. I .(2020) .*Drugs, Brains, and Behavior: The Science of Addiction* .U.S. Department of Health and Human Services.

Rogers, C. R .(1951) .Client-Centered Therapy: Its Current Practice, Implications, and Theory .*Sceintifict Research an academic publisher* حصول از . https://www.scirp.org

Seventy Time Seven Wellness, M حصول از .Seventy Time Seven Wellness Mission: https://www.70x7wm.com/substance-abuse/effects-of-drug-abuse-on-memory-learning-and-cognition/

Volkow, N. D .(2005) .*The Neuroscience of Addiction* .Nature Neuroscience حصول از . https://dept.wofford.edu/Neuroscience/NeuroSeminar

Volkow, N. D .(2016) .*Neurobiologic Advances from the Brain Disease Model of Addiction* .New England Journal of Medicine.

Zayed, A .(2024/4/25) .*diamondrehabthailand.com* حصول از .Medical News Today: https://diamondrehabthailand.com/physical-and-mental-effects-of-drug-abuse/#2_Insomnia_or_excessive_sleeping

.

.

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

Volume:2 Issue: 2 Year:1404